د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

د هو ټلونو دولتي شرکت

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Finance

Hotels-State Owned Corporation

امارت اسلامی افغانستان

وزارت مالیه

شرکت دولتی هوتلها

# Hotels- State Owned Corporation Profile

## د هوټلونو دولتي شرکت پروفایل




ترتیب: د شرکت اجرایي کمېټه

کال: ۱۴۰۱ هـ ش

## لړلیک

د کمپنۍ پېژندنه :........................................................................................................... ۱
مرکزي دفتر پته ................................................................................................................. ۱
د شرکت لید(Vision) ........................................................................................................ ۱
ماموریت (Mission)............................................................................................................ ۱
پېرودونکي ........................................................................................................................ ۲
خدمتونه: (Services)........................................................................................................... ۲
د خدمتونو وړاندې کولو اوسنی او احتمالي ظرفیت ................................................................ ۳
مالي معلومات:................................................................................................................... ۴
پرمختیایي پلانونه: ............................................................................................................. ۴
لنډ مهاله پلان..................................................................................................................... ۴
لاسته راوړنې:( مالی، عملیاتي او تجارتي)............................................................................. ۵
د سازمان جوړښت: ............................................................................................................ ۷
جایزې او سندونه (Certificates and Awards)........................................................................ ۷
ټولنیز مسؤلیت:.................................................................................................................. ۷
د اړیکو وسیلې:................................................................................................................... ۸
د پېرودونکو نظرونه (Feedback) ......................................................................................... ۸

## د کمپنۍ پېژندنه :

د هوټلدارۍ صنعت په افغانستان کې له ډېر پخوا څخه په ابتدایي بڼه رواج درلود، چې په لومړیو وختونو کې د کاروان سرای په نامه یادېدلو، هوټل او هوټلداري په هېواد کې د وخت په تېرېدلو سره خپل شکل بدل کړل او نوې بڼه یې غوره کړه، وروسته بیا په لومړي ځل د کابل هوټل په نامه یو عمومي مدیریت د هوټلدارۍ د خدماتو په وړاندې کولو سره د مخابراتو وزارت په چوکاټ کې رامنځ ته شو، د وخت په تېرېدلو سره د خیبر رستورانت، باغ بالا رستوانت، سپوږمۍ کافي رستوانت، استالف هوټل او داسې نور هم ددې مدیریت سره یو ځای شول، کله چې په نړیواله کچه توریزم او ګرځندوی صنعت وده وکړه، یو لړ مقررات وضع شول،چې افغانستان هم د دغه نړیوال حرکت غړی و، پدې وخت کې دولت تصمیم ونیولو تر څو د هوټلدارۍ خدماتو ته پراختیا ورکړي، چې په پایله کې یې په ۱۳۳۰ هجري لمریز کال کې د هوټلونو دولتي شرکت را منځ ته کړ او د هېواد په مختلفو ولایتونو کې چې سیاحتي او تفریحي سیمې یې لرلې، نوي هوټلونه جوړ کړل، د بېلګې په توګه: د مزار هوټل ، هرات هوټل، قندهار هوټل، غزنی هوټل، هلمند بُست هوټل، بغلان ولایت کې خنجان هوټل او ننګرهار ولایت کې سپین غر هوټل د یادولو وړ دي.

دغه شرکت په ۱۳۵۲ هجری لمریز کال کې د هوټلونو دولتي شرکت څخه دولتي تصدۍ ته په حقوقي بڼه تغییر وموند، بیا د دولتي شرکتونو د قانون د نافذېدلو وروسته بېرته د یوه دولتي شرکت په حیث د سل په سلو دولتي ونډې په درلودلو سره تغیر وموند ،چې اوس مهال د دولتي شرکتونو د قانون مطابق چې په ۱۳۹۷/۶/۷ نېټه باندې په رسمي جریده کې خپور شوی دی، خپل فعالیتونه مخ ته وړي، چې بهرنیو او کورنیو میلمنو ته په ملي او نړیواله کچه خدمات وړاندې کوي او د افغانستان د مېلمه پالنې شمله یې هسکه ساتلې ده.

## مرکزي دفتر پته

د کابل ښار دریمه کارته اوومه کوڅه (۳۰) شمېره کور.

## د شرکت لید(Vision)

د هوټلدرای صنعت را ژوندي او پراختیا ورکول، تر څو چې کورني او بهرني مېلمانه راجلب شي، د اساسي فعالیتونو پراختیا او اقتصادي پیاوړتیا تر څو د هیواد او منطقې په کچه د هوټلدارۍ په برخه کې په لسو غوره کې راشو.

ماموریت (Mission)

د کورنیو او بهرنیو مېلمنو لپاره په معیاري او پرمختللې بڼه د هوټلدارۍ خدمات عرضه کول او د وخت د غوښتنې سره سم په ملي او بین المللي سطحه پراختیا ورکول.

**پېرودونکي**

دولتي کار کوونکي

سیاحین او ګرځندویان

مسافرین او مهاجرین

د محل خلک او نور

| د پېرودونکو ځانګړتیاوې | | | | |
|---|---|---|---|---|
| عمر | د عاید سطحه | جغرافیایي نقطه | جنسیت | وخت |
| منځنی عمر لرونکي | د لوړې او منځنۍ سطحې لرونکې | زیات شمېر کورني میلمانه او کم شمېر خارجي میلمانه | زیات شمېر نارینه او کم شمېر ښځینه | په تېر ، اوس او راتلونکې کې |

**خدمتونه: (Services)**

**۱- د خدمتونو ډولونه:**

شرکت لاندې خدمتونه تر سره کوي:

۱. د هوټلدارۍ خدمات وړاندې کول
۲. د رستورانتونو خدمات وړاندې کول
۳. د دیني، علمي، فرهنګي او ټولنیزو محفلونو، سمینارونو او ورکشاپونو لپاره تالارونه برابرول.

**۲- د خدماتو قېمتونه**

د شرکت د خدمتونو قیمت رقابتي او مناسب دی چې د ټیټې، منځنۍ او لوړې سطحې قیمتونه په کې شامل دي.

**۳- د خدمتونو شتون**

اوس مهال په مرکز کابل ( کابل سرینا هوټل، قرغې بند سپوږمۍ رستورانت، استالف هوټل) او په ننګرهار ( سپین غر هوټل )کې فعالیتونه لرو، چې په راتلونکې کې به نورو ولایتونو ته هم وغځول شي.

**فعالیتونه**

د هوټلونو دولتي شرکت دوه ډوله فعالیتونه لري، چې اساسي او غیر اساسي دي

۱- اساسي فعالیتونه: د آساسنامې مطابق کورنیو او بهرنیو مېلمنو لپاره د هوټلدارۍ خدمتونو وړاندې کول



میلمه پالنه، هوټلداري او خدمات

**۲- غیر اساسي فعالیتونه**

حقیقي او حکمي اشخاصو ته په مشارکت، اجاره او کرایه باندې جایدادونه ورکول او د هغوی شخه نظارت او ځارنه او د د شرکت بانکي حساب ته د عوایدو انتقال.

**د خدمتونو وړاندې کولو اوسنی او احتمالي ظرفیت**

| شماره | خدمتونه | واحد | اوسنی ظرفیت | احتمالي ظرفیت | نظرونه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مېلمنو ته د کلني خدمتونو چمتو کولو ظرفیت | شخص | ۵۵۸،۳۶۰ | ۱،۰۴۷،۹۶۰ | د قراردادونو د عقد په صورت کې |
| ۲ | کلني خدمتونه وړاندې کول د پېردونکو لپاره | شخص | ۸۳،۶۰۰ | ۱۶۵،۲۴۰ | د قراردادونو د عقد په صورت کې |
| ۳ | د خدمتونو ډولونه | نوع | ۳ | ۳ | دهوټل، رستورانت او د ورکشاپونو لپاره هالونه |
| ۴ | د استخدام اندازه مستقیم او غیر مستقیم | شخص | ۴۵۳ | ۷۰۰ | د ویجاړ شویو هوټلونو د بیا رغونې په صورت کې |

مالي معلومات:

**د ګټې او تاوان صورت حساب**
**د ۱۴۰۱ کال څخه تر ۱۴۰۳ ( یو کال حقیقي او دوه کاله وړاندوینه )**

| | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ |
|---|---|---|---|
| عواید | ۷۹،۲۷۶،۳۰۴ | ۸۸،۳۹۶،۰۰۰ | ۱۱۱،۵۰۸،۵۲۰ |
| عملیاتي لګښتونه + ۴٪ مالیات | ۵۶،۴۲۰ ،۶۸۲ | ۵۷،۲۰۸،۰۲۴ | ۶۱،۷۲۸،۰۲۴ |
| ناخالصه ګټه | ۲۲،۸۵۵،۶۲۲ | ۳۱،۱۸۷،۹۷۶ | ۴۹،۷۸۰ ،۴۹۶ |
| مالیات ۲۰٪ | ۴،۵۷۱،۱۲۴ | ۶،۲۳۷،۵۹۶ | ۹،۹۵۶،۱۰۰ |
| خالصه ګټه | ۱۸،۲۸۴،۴۹۷ | ۲۴،۹۵۰ ،۳۸۰ | ۳۹،۸۲۴،۳۹۶ |

**د بېلانس شیټ صورت حساب**
**د ۱۴۰۱ کال څخه تر ۱۴۰۳ ( یو کال حقیقي او دوه کاله وړاندوینه )**

| | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ |
|---|---|---|---|
| شتمني | ۲۷۵،۲۲۱،۸۵۴ | ۶،۳۷۵،۲۲۱،۸۵۴ | ۷،۳۹۵،۲۲۱،۸۵۴ |
| جاري شتمني | ۲۳۰ ،۲۷۶،۶۲۷ | ۳۳۰ ،۲۷۶،۶۲۷ | ۳۵۰ ،۲۷۶،۶۲۷ |
| ثابته شتمني | ۴۴،۹۴۵،۲۲۷ | ۶،۰۴۴،۹۴۵،۲۲۷ | ۷،۰۴۴،۹۴۵،۲۲۷ |
| پورونه | ۵،۳۸۱،۴۹۵ | ۱،۰۰۰،۰۰۰ | ۵۰۰،۰۰۰ |
| جاري پورونه | ۳،۰۰۰،۰۰۰ | ۱،۰۰۰،۰۰۰ | ۵۰۰،۰۰۰ |
| اوږدمهاله پورونه | ۲،۳۸۱،۴۹۵ | ۰ | ۰ |
| سرمایه | ۲۶۹،۸۴۰ ،۳۵۹ | ۶،۳۷۴،۲۲۱،۸۵۴ | ۷،۳۹۴،۷۲۱،۸۵۴ |

یادونه: په ۱۴۰۲ او ۱۴۰۳ کلونو کې د جایدادونو نوې قیمت ګذارې په تقریبي ډول په نظر کې نیول شوې ده.

## پرمختیایي پلانونه:

د هوټلونو دولتي شرکت ستراتیژیک پلان په پام کې نیولو سره لنډ مهال او اوږد مهاله لاندې پرمختیایي پلانونه لري :

### لنډ مهاله پلان

۱. د نورو ادراتو له لوري چې کوم جایدادونه تصرف شوي بېرته تر لاسه کول.
۲. د پنځه کلن ستراتیژیک پلان ترتیب او جوړونه
۳. د کارکوونکو ظرفیت لوړونه په علمي، مسلکي ،هوټلدارۍ برخوکې د ورکشاپونو او سمینارونو له لارې.
۴. د ظرفیت لوړونې، نظارت او ارزیابي، بشري سرچینو او تدارکاتو طرزالعملونه ترتیبول او د هغو منظورې اخیستل.
۵. د هوټلدارۍ مسلکي اشخاص ګمارل او موجوده کارکوونکو ته د هوټلدارۍ مسلکي ورکشاپونه او سمینارونه برابرول.

**اوږد مهاله پلان**

١. د اساسي فعالیت پراختیا.
٢. د شخصي پانګونې د جذب لپاره زمینه برابرول.
٣. د هوټلونو دولتي شرکت په جایدادونو کې د مشارکت زمینه برابرول.
۴. د هوټلدارۍ د خدماتو توسعه او پراختیا.
۵. د مسؤلینو او کارکوونکو ظرفیت لوړونه.

په پنځه کلن پلان کې په تفصیلي شکل د ذکر شویو اهداف تشریح شوې ده

**لاسته راوړنې:( مالی، عملیاتي او تجارتي)**

**١- په مالي او اداري برخه کې شرکت لاندې لاسته راوړنې لري:**

١. د مزار هوټل قرارداد عقد شوی چې ساختماني چارې یې جریان لري.
٢. د کافي سپوږمۍ رستورانت نوی قرارداد عقد شوی، چې په پایله کې یې عاید په میاشتۍ توګه د (۲۹۷۹۶۴) افغانیو څخه (۹۷۵۰۰۰) افغانیو ته لوړ شوی دی.
٣. د هلمند بُست هوټل قرارداد عقد شوی.
۴. د باغ بالا رستورانت قرارداد عقد شوی دی.
۵. د کویک بوکس قرارداد عقد شوی او چارې یې تقریباً تمامې دي، چې پر بنسټ به یې ټولې مالي چارې الکترونیکي سیستم ته واړول شي.
۶. اړوندو کارکوونکو ته د کویک بوکس پروګرام ټریننګ ورکړل شوی دی، تر څو ظرفیت یې لوړ شي او ګټه ترې پورته کړای شي.
٧. د ۱۳۹۹ مالي کال بیلانس د IFRS په سیستم ترتیب او تائید شوی.
٨. د شرکت ثابتې دارایي ته کوډونه ورکړل شوي دي.
٩. د شرکت لپاره د ویبسایټ او لوګو قراردادونه عقد شوي.
١٠. د معاشاتو ورکړه بانکي سیستم ته تبدیله شوې.
١١. د تفتیش عالی ادارې لخوا د (۱۳۹۸) (۱۳۹۹) او (۱۴۰۰) کلونو مالي او تدارکاتي اسناد څېړل شوي او سپارښتنې تطبیق کیږي.
١٢. د شرکت د ټولو جایدادونو نوی ارزښت تعین شوی دی.
١٣. د ظرفیت لوړونې طرزالعمل ترتیب شوی دی.
١۴. د شرکت اړوندو بستونو لپاره د دندو لایحې ترتیب شوې دي.

**۲- په عملیاتي برخه کې شرکت لاندې لاسته راوړنې لري**

۱۵. د مالیې وزارت تر ملیکت او دولتي شرکتونو د قانون تر چتر لاندې د هوټلونو دولتي شرکت پاتې کېدلو د دفاعیې ترتیب.

۱۶. د کافي سپوږمۍ د قرارداد د فسخې لپاره د دفاعیې ترتیب.

۱۷. د نورو دولتي اداراتو له لوري چې کوم جایدادونه تصرف شوی وو، بېرته مو تر لاسه کړل لکه:

- هلمند بُست هوټل
- باغ بالا رستوانت
- کندهار هوټل
- استالف هوټل

۱۸. استالف هوټل په وسایلو تجهیز شوی او اساسي فعالیت په کې شروع شوی.

**په تجارتي برخه کې شرکت لاندې لاسته راوړنې لري:**

۱۹. مزار هوټل کې د (۸۰۰،۰۰۰،۰۰۰) اته سوو مېلیونو افغانیو پورې د ترتیب شوې نقشې په آساس دخصوصي پانګې جذب ، چې د پروژې ساختماني چارې عملاً رواني دي.

۲۰. د سپین غر هوټل د تېلو پمپ استیشن کې (۱۶،۰۰۰،۰۰۰) شپاړلسو میلیونو افغانیو خصوصي پانګې جذب.

۲۱. د باغ بالا رستورانت او باغ بالا فارم کې د املاکو ریاست سره په مشترک ډول د(۲۶۶،۰۰۰،۰۰۰) دوه سوو شپږ شپته میلیونو افغانیو خصوصي پانګې جذب.

۲۲. د پنځه کلن تجارتي ( استراتیژیک پلان ) ترتیب.

۲۳. د ویب سایټ، فیسبوک پاڼه د اعلاناتو او تبلیغاتو د نشر لپاره چمتو شوي.

۲۴. د شرکت لپاره تجارتي نښان (لوګو) جوړه شوې.

۲۵. د شرکت ټولو جایدادونو لپاره د خصوصي پانګې د جذبولو اعلانات ترتیب او چاپ شوي .

**د سازمان جوړښت:**

د هوټلونو دولتي شرکت درې معاونیتونه ( عملیاتي، مالي او اداري او تجارتي) درې مستقل آمریتونه ( د اسناد او اړیکو آمریت، د پلان او پالسۍ آمریت او حقوقي مشاوریت) او یو مستقل عمومي مدیریت ( داخلي تفتیش) په لرلو سره د هېوادوالو په خدمت کې دی.

| د هوټلونو دولتي شرکت | د هوټلونو دولتي شرکت تشکیلاتي جوړښت | | | | | | | | ټولټال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | اول بست | دویم بست | درېیم بست | څلورم بست | پنځم بست | شپږم بست | اووم بست | اتم بست | ۱۱۸ |
| | ۱ | ۳ | ۸ | ۷ | ۲۲ | ۲۶ | ۱۸ | ۳۳ | |

| د زده کړې کچه | تعداد |
|---|---|
| ډاکتر | ۰ |
| ماستر | ۴ |
| لسانس | ۲۳ |
| فوق بکوریا | ۶ |
| بکلوریا | ۳۴ |
| خدماتي پرسونل | ۵۱ |
| مجموعه | ۱۱۸ |

| تجربه ( کلونه) | تعداد |
|---|---|
| د (۳۰) کلونو پورته | ۱۹ |
| ۲۱- ۳۰ کلونو پورې | ۱۱ |
| ۱۱- ۲۲ کلونو پورې | ۱۳ |
| ۵- ۱۰ کلونو پورې | ۴۰ |
| کم له پنځو کلونو | ۳۵ |
| مجموعه | ۱۱۸ |

| عمر | تعداد |
|---|---|
| ۶۰-۶۴ | ۱۷ |
| ۵۰-۶۰ | ۲۲ |
| ۴۰-۵۰ | ۱۶ |
| ۳۰-۴۰ | ۴۱ |
| ۲۰-۳۰ | ۲۲ |
| مجموعه | ۱۱۸ |

**جایزې او سندونه (Certificates and Awards)**

د جایزو او سندونو په برخه کې د هوټلونو دولتي شرکت د مدیره پلاوي اوومه جلسه د یادونې وړ ده، چې ذکر کړې یې دي:(( بادر نظرداشت فعالیت ها و دست اوردهای قابل ملاحظه ای که رهبري شرکت دولتی هوتل ها در قبال احیای فعالیت اساسی و تصرف دوباره املاک و جایداد ها غضب شده شرکت، فیصله بعمل آمد تا برای رئیس شرکت هوتل ها تقدیر نامه من جانب هئیت مدیره و رئیس هئیت نظارت شرکت های دولتي اعطاء گردد))

**ټولنیز مسؤلیت:**

د هوټلونو دولتي شرکت دټولنې په وړاندې لاندې مسؤلیتونه لري:

۱. کورنیو او بهرنیو میلمنو ته د هوټلدارۍ معیاري خدمتونه وړاندې کول، د ژوندانه چاپېریال او غذایي مصئونیت په پام کې نیولو سره.

۲. په شرکت کې د ونډو زمینه برابرول، د ملي پراختیا، اقتصادي ودې، ټولنیز پرمختګ او دکار پیدا کولو په موخه.

۳. شرکت ته د خصوصي پانګې جذب لپاره د زمينې برابرول.
۴. د هوټلدارۍ خدمتونو چمتو کولو په برخه کې پېرودنکو ته د اصلاحاتو او نوښتونو راوستل.
۵. د کار کوونکو د علمي او مسلکي مهارتونو د لوړوالي لپاره زمينه مساعدول.
۶. د شرکت کار کوونکو ته کاري آسانتياوې برابرول.
۷. د کاري مصئونيت په نظر کې نيول.
۸. ديني، فرهنګي او محيطي ارزښتونه په نظر کې نيول.

**د اړيکو وسيلې:**

د هوټلونو دولتي شرکت لاندې ارتباطي وسايل لري:

ويب سايټ:(H-SOC.gov.af)

برېښنا ليک: (gdh_authority@yahoo.com)

د فيسبوک پاڼه: ( د هوټلونو دولتي شرکت عمومي رياست )

د تليفون شميرې: ( ۰۷۸۸۸۶۷۰۰۴/۰۷۸۰۰۰۸۵۱۰ )

**د پېرودونکو نظرونه (Feedback)**

د پېرودونکو د نظرونو څخه په لاندې ډول يادونه کوو:

۱. د هوټلونو دولتي شرکت خدمات د ستاينې وړ دي.
۲. که په افغانستان کې د هوټلونو دولتي شرکت خپل ټول هوټلونه فعاله کړي، مېلمنو ته به خدمتونه ارزانه او پر وخت وړاندې شي.
۳. د هوټلونو دولتي شرکت اړوند هوټلونه پراخې شنې او سياحتي ساحې لري، چې خصوصي هوټلونه له دغه امتياز څخه برخمن نه دي.
۴. د رستوانتونو د خدمتونو په برخه کې غذايي مصئونيت په نظر کې نيول شوی دی.
۵. د هوټلونو دولتي شرکت د غير فعال هوټلونو د بيا فعاليت سره به هيوادوالو ته دکار زمينه برابره شي.